يو سړی د خپل ملګري د دين پيروي کوي، نو په تاسو کې دې څوک وګوري چې له چا سره خالصه ملګرتيا کوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "يو سړی د خپل ملګري د دين پيروي کوي، نو په تاسو کې دې څوک وګوري چې له چا سره خالصه ملګرتيا کوي".
[حسن] [ابو داود، الترمذي، او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې انسان په خپلو اخلاقو او عاداتو کې له خپل مخلص دوست او ملګري سره مشابهت لري او دوستي په اخلاقو، سلوک او کړنو باندې تاثير لري، لدې امله يې د دوست د ښه انتخاب لپاره لارښوونه وکړه، ځکه چې دا د هغه ملګري ته د ايمان، هدايت او نيکۍ لارښوونه کوي، او د ملګري لپاره د خير په کارونو کې مرستندوی وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3122